مطبوعاتی خبرپاڼه

دنړیوالو مرستو وزیر ښاغلی اوډا په افغانستان کی دوچکالی له کبله دمتضررینو څخه دملاتړ اعلان وکړ

اوټاوا- اونټاریو- ښاغلی بیورلی ج. اوډا دنړیوالو مرستو وزیر نن دنړیوال خوراکی پروګرام (WFP) څخه دحمایت جزیات اعلان کړل ترڅو هغو خلکو ته خوراکی توکی ورسوی چی په افغانستان کی دوچکالی له کبله زیانمن شوی دی.

وزیر اوډا وویل: مخکی لدی چی دژمی له کبله مواصلاتی لاری بندی شی، دغه دوچکالی مرستی هغو کسانو ته خوراکی توکی ورسوی کوم چی ډیر زیان منونکی دی په خاصه توګی ښځی او ماشومان. دنړیوال خوراکی پروګرام (WFP) څخه دکاناډا حمایت به د دری میلیونه څخه زیاتو خلکو سره چی دافغانستان په ۱۴ شمالی او شمال ختیځ ولایاتو کی پراته دی دژمی په سختو میاشتو کی دګرنده خوراکی توکو په تیارولو کی مرسته وکړی.

دنړیوال خوراکی پروګرام (WFP) څخه دکاناډا حمایت به داټکل په توګه ۱،۲ میلیونه خلکو ته چی دوچکالی له کبله زیانمن شوی خوراکی راشن تیار کړی. ددی څخه علاوه، ۴۲۰۰۰ هغه کورنی چی په ښارمیشته سیمو کی ژوند کوی، دشپږو میاشتو لپاره نغدی مرسته وشی چی معادل د ۵۰ کیلوګرامه اوړو کیږی.

دغه د ۱۳ میلیونه ډالرو مرسته دافغانستان دخلکو سره دکاناډا دشویو وعدو ساتندویی کوی. کاناډا په افغانستان او نړی کی دنړیوال دخوراکی پروګرام (WFP) سره دسترو مرسته کوونکو له ډلی څخه دی.

په افغانستان کی دکاناډا دماموریت په هکله دلازیاتو معلوماتو لپاره لاندی ویب پاڼه پرانیزی: